# Higher Education Weekly

شماره یکصدو هشتادو نهم - سال نهم- ثور ۱۴۰۱ هـ.ش

https://mohe.gov.af


## په ننګرهار پوهنتون کې د کادري بستونو له ۱۰۴ تنو کاندیدانو ازموینه واخېستل شوه.



د لوړو زده کړو وزارت علمي معین دوکتور لطف الله خیرخواه او د ننګرهار پوهنتون رئیس پوهاند دوکتور خلیل احمد بهسودوال د ازموینې بهیر څخه د لیدنې پر مهال استادانو ته سپارښتنه وکړه، چې ګډونوالو کاندیدانو ته په ښه توګه لارښوونه وکړي او ازموینه دې د علمي نورمونو او اصولو سره سمه په شفافه توګه واخېستل شي، چې د هغوی له خوا د اجراآتو ډاډ ورکړل شو. ۷

## معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی با مسؤولان پوهنتون هرات دیدار نمود



معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی و هیئت همراه شان طی سفر کاری به ولایت هرات، با مسئولان پوهنتون هرات دیدار نمود.

در این دیدار مولوی حافظ محمد حامد حسیب معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی با پوهندوی عبدالعزیز نعمانی رئیس پوهنتون هرات و سایر اعضای رهبری این پوهنتون دیدار نموده، فعالیت ها، دستآورد ها، خواست ها و مشکلات آنان را در راستای بهبود امور تحصیلات عالی آن ولایت استماع و جهت حل آن وعده همکاری داد. ۷

## د دعوت او ارشاد رئیس د رابعه بلخي خصوصي پوهنتون څخه لیدنه وکړه



د لوړو زده کړو وزارت د دعوت او ارشاد رئیس او ورسره مل پلاوي د رابعه بلخي خصوصي پوهنتون څخه لیدنه او په یاد پوهنتون کې یې د دعوت او ارشاد له لوري د لېږل شوې طرحې د تطبیق څارنه وکړه.

د لوړو زده کړو وزارت د دعوت ارشاد رئیس شیخ شاکرالله وحدت او ورسره مل پلاوي په داسې حال کې، چې د خصوصي لوړو زده کړو بنسټونو اجرائیه رئیس هم شتون درلود، د رابعه بلخي خصوصي پوهنتون څخه لیدنه وکړه او په یاد پوهنتون کې یې د دعوت او ارشاد د طرحې د تطبیق څارنه وکړه.

په دغه لیدنه او څارنه کې د لوړو زده کړو وزارت د دعوت او ارشاد رئیس شیخ شاکرالله وحدت د رابعه بلخي خصوصي پوهنتون محصلینو او کارکوونکو ته د دعوت او ارشاد له لوري خصوصي پوهنتونونو لپاره ترتیب شوې طرحه ۷

## در مورد آغاز پروسه ارزیابی اسناد فارغان مدارس به مسئولان پوهنتون های دولتی معلومات ارایه گردید



در رابطه به آغاز پروسه ارزیابی اسناد فارغان مدارس دینی برای مسؤولان پوهنتون های دولتی و مسؤلان زون های مربوط از سوی رئیس دعوت و ارشاد وزارت تحصیلات عالی معلومات ارائه گردیده در زمینه هدایات لازم داده شد.

شیخ شاکرالله وحدت رئیس دعوت و ارشاد وزارت تحصیلات عالی در نشستی که با مسؤولان نهاد های تحصیلی دولتی و مسؤلان ارزیابی اسناد یاد شده در سطح زون ها از طریق ویدیو کنفرانس ۷


صاحب امتیاز: وزارت تحصیلات عالی

مدیر مسوول: مدیرجان کوټوال

هیأت تحریر: اخترمحمد عبیر، محمد اسلم اسلم و ناصر خان شیرزی

ګزارشګران: کاوون رمز، محب الله امیري و قاسم جویا

تصویر بردار: احمد سیر معرفت

صفحه آرا: عنایت الله حنیفی

جمع آوری مواد هفته نامه: زمری یعقوبی

نشانی: کارته چهار, کابل افغانستان

سال تاسیس: ۱۳۹۱ خورشیدی

تیراژ: ۲۵۰ نسخه

محل چاپ: مطبعه ریاست نشرات وزارت تحصیلات عالی

وب سایت وزارت:www.mohe.gov.af

شماره تماس: ۰۲۰۲۵۰۰۳۲۵

آدرس الکترونیکی:ministrymohe@gmail.com


**ګرانه لوستونکیه!**

که تاسې غواړئ چې ستاسو لیکنې په لوړو زده کړو اونېزه کې خپرې شي، نو کولای شئ چې خپلې لیکنې، نیک نظرونه او سالم وړاندیزونه په لاندې پتو را ولیږئ.

**خوانندگان گرانقدر!**

تقاضامندیم نظریات و پیشنهادات تان را جهت بهبود نشرات این هفته نامه با ما شریک نموده و همچنان مطالب و نوشته های تان را جهت نشر در این هفته نامه از طریق ایمیل و یا به شکل مستقیم به ریاست اطلاعات، نشرات و روابط عامه ارسال دارید.



## جلسه شورای رهبری وزارت تحصیلات عالی دایر شد




جلسه شورای رهبری وزارت تحت ریاست سرپرست وزارت تحصیلات عالی دایر شد.

در این جلسه الحاج مولوی عبدالباقی حقانی سرپرست وزارت تحصیلات عالی ضمن آنکه وزارت تحصیلات عالی را نخستین مرجع پیشرفت و ترقی کشور عنوان نمود، از تمام پرسونل و کارمندان این وزارت خواست تا وظایف و مسئولیت های شان را با دقت و صداقت کامل انجام داده، در راستای خدمت گزاری به مردم تلاش بیشتر نمایند. ۷

## معین علمی وزارت تحصیلات عالی با مسؤول دفتر جینوا کال دیدار نمود

معین علمی وزارت تحصیلات عالی با مسؤل دفتر جینوا کال در افغانستان، دیدار و روی چگونگی راه اندازی برنامه های آگاهی دهی برای اساتید نهاد های تحصیلی کشور در رابطه به قوانین جهانی حقوق بشر صحبت نمود.

در این دیدار دکتور لطف الله خیر خواه معین علمی وزارت تحصیلات عالی ضمن مؤثر خواندن همچو برنامه ها جهت بلند بردن سطح آگاهی اساتید پوهنتون های کشور در زمینه نورم ها و مفاهیم حقوق بشر، اظهارداشت که وزارت تحصیلات عالی با درنظرداشت مقررات خویش در زمینه راه اندازی برنامه های آگاهی دهی برای استادان پوهنځی های حقوق و شرعیات پوهنتون های کشور، همکار خواهد بود.

هم چنان خانم فریانه فدایی مسؤول دفتر جینواکال در افغانستان ضمن تشکری از مقام معینیت علمی وزارت تحصیلات عالی، ۷



## لوړو زده کړو سرپرست وزیر، پوهنتونونو مسؤولانو سره د دیني مدرسو فارغانو د اسنادو ارزونې په اړه خبرې وکړې




د لوړ زده کړو سرپرست وزیر د ویډیو کنفرانس له لارې د دولتي پوهنتونونو رئیسانو او فوق العاده استازو ته د علماء کرامو د دیني اسنادو ارزیابۍ په پروسه کې د شفافیت او ورته نورو مسایلو توصیه ورکړه.

یاد ویډیو کنفرانس چې د لوړو زده کړو سرپرست وزیر الحاج مولوي عبدالباقي حقاني په مشرۍ دایر شوی و، د دیني جامعاتو او تخصصاتو رئیس، د دولتي پوهنتونونو رئیسانو او فوق العاده استازو ګډون درلود.

په دې ویډیو کنفرانس کې د لوړو زده کړو سرپرست وزیر الحاج مولوي عبدالباقي حقاني یادو مسؤلینو ته په لنډ وخت کې د دیني علماؤ د اسنادو د ارزیابۍ پروسې پیلېدو خبر ورکولو ترڅنګ وویل: " دا پروسه باید په ډېره شفافه او بې طرفه توګه پرمخ یوړل شي، د علماء کرامو خیال وساتل شي او مشکلات یې حل شي، ترڅو د دوی د رضایت سبب وګرځي".

دغه راز ښاغلي حقاني ګډونوالو ته توصیه وکړه، چې د تېرو ۲۵ کلونو اسنادو را جمع کول او ارزیابي کول، وخت او حوصلې ته اړتیا لري؛ نو باید په صادقانه ډول دغه کار ترسره شي. ۷

## سرلیکنه

### د شهیدانو هیلې!

د تېرو دوه لسیزو راهیسې زموږ د هېواد پر پاکه خاوره د اشغال سیوری غوړېدلی و،چې ورسره هم مهاله اسلامي او ملي ارزښتونه هم زیانمن شول.

افغان شازلمیو د خپلو خوښیو او کورنیو په قرباني کولو سره، د تن په وینو او د بدن په غوښو دا خاوره یوځل بیا د جهل له تیارې او اشغال پاکه کړه.

دغو اتلو شهیدانو دا قربانۍ د ځینو هیلو لرلو په موخه ترسره کړې دي، چې ورته بې توجو یې د دوی له وینو سره جفا او ظلم دی.


د سپیڅلې لارې د اتلو شهیدانو ارمانونو څخه ځینې یې د هېواد ازادول، پرمختګ او په علمي ډګر کې د سیالو هېوادونو سره سیال کول وو.

د لوړو زده کړو وزارت د شهیدانو هیلو ته د پاملرنې په موخه په تحصیلي برخه کې زیات کار وکړ او کوي یې، موږ په دې باور یوو، چې د هېواد ابادي او پرمختګ په معیاري تحصیل او د نوي نسل په اسلامي فکري روزنې سره کېدای شي.

په همدې موخه د لوړو زده کړو وزارت په دې وروستیو کې د پوهنتونونو پر نصاب بیا کتنه وکړه، د تدریس طریقه یې منظمه او ورته نور اړین ګامونه یې واخیستل او لا یې هم په دې برخه کې هڅې جاري ساتلي دي.

د لوړو زده کړو وزارت تل په دې هڅه کې دی، چې د سپیڅلو شهیدانو ارمانونو ته رسېدنه وشي، چې دې کار سره به مو هېواد په تحصیلي برخه کې ستر ګام پورته، هېواد به مو اباد، د سیالانو سیال او د بیا اشغال څخه په امن شي.

په درنښت
اداره




### د عقبې دویم بیعت

ترتیب: مدیر جان کوټوال

د نبوت د دیارلسم کال د حج په موسم کې چې د (۶۲۲) میلادي کال د جون له میاشتې سره سمون خوري د یثرب د مشرکانو سره څه د پاسه (۷۰) مسلمانان هم حج ته راغلل، کله چې مکې ته راغلل د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې پټه رابطه وشوه، دواړو خواوو پرېکړه وکړه چې د تشریک د ورځو په مینځ کې به د منی په هغه برخه کې چې لومړنۍ جمرې ته نږدې عقبه نومي ځای کې یو له بل سره مخامخ او په پټه وګوري.

چې د بت پرستۍ او اسلام د مقابلې په مرحله کې د دې تاریخي غونډې په هکله یو محترم او درانه انصاري ته غوږ وو چې څه وایي:

کعب بن مالک رضی الله عنه وایي:

د حج په سفر ووتو له رسول اکرم صلی الله علیه وسلم سره مو په عقبه کې د تشریک د ورځو په لړۍ کې د لیدلو وعده کېښوده، زمونږ په کاروان کې زمونږ د قوم نومیالي مشر او مخور سړي عبدالله بن عمرو بن حرام هم وو مونږ د مشرکانو څخه د دې لیدنې خبره پټوله، خو ده ته مو وویل: ابوجابره! ته زمونږ د قوم مشر سړی یې په تا مو نه لوریږي چې د مرګ وروسته جهنم د اور لرګي شي، د اسلام بلنه مو ورکړه او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د وعدې مو خبر کړل هغه مسلمان، د عقبې په لیدنه کې برخمن او بیا وروسته نقیب وټاکل شو.

کعب رضی الله عنه وایې: په دې شپه له نورو خلکو سره یوځای په خپلو ځایونو کې ویده شو، د شپې په دریمه برخه کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د وعدې مطابق غلی پورته او د وعدې د ځای په لور ولاړو، ترڅو ټول عقبې ته راغونډ شو، مونږ ټول (۷۳) سړي او دوه ښځې وو. مونږ په یوه کنده کې راټول او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د راتګ په انتظار وو، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم راښکاره شو او کاکا یې عباس بن عبدالمطلب هم ورسره و.

که څه هم عباس بن عبدالمطلب په پخواني دین وه، خو خوښوله یې چې د وراره غونډو ته حاضر او د خلکو سره یې تړون ټینګ کړي، نو لومړی یې خبرې وکړې.

د حضرت عباس له لورې د مسؤلیت د درونند والي څېړنه:

د غونډې د ټولو غړو له راتګ وروسته د جلسې رسمي کار پیل او د نوي دین او نظامي تړون د تشریح لپاره تر ټولو لومړې د رسول الله صلی الله علیه وسلم تره عباس بن عبدالمطلب خبرې پیل او په واضحه ټکو یې لوی او درونند مسؤلیت ور په ګوته کړ.

چې له دې تړون څخه وروسته به د دوي په اوږو پروت وي، ای خذرجیانو! محمد صلی الله علیه وسلم زموږ په منځ کې کوم مقام لري، موږ د خپل قوم له تېریو څخه وژغوره، سره له دې چې زموږ د قوم هر غړی زموږ په اندازه توان لري.

دا په خپل قوم کې د ښه عزت خاوند دی او په خپل وطن کې ښه په امن سره ژوند کوي، خو دی خپله غوره ګڼي چې له تاسې سره ولاړ او هلته ژوند وکړي، که تاسې باور لرئ چې له ده سره کړې وعدې پوره کولی شئ او له دښمنانو یې ژغورلی شئ؛ نو تاسې یې ځان سره بوولی شئ او که اټکل کوئ چې دښمن ته به یې وسپارئ او له درتلو څخه وروسته به یې سپک کړئ؛ نو همدا اوس یې پرېږدئ!

کعب رضي الله عنه وایي، موږ عباس رضي الله عنه ته وویل، ستا خبرې مو واورېدې، ای رسول الله صلی الله علیه وسلم ! اوس ته خبرې وکړه! د خدای او د خدای د رسول صلی الله علیه وسلم لپاره چې څه وعدې غواړې وایې خله، دې ځواب ښکاره کوله چې دوی دا لوی او ستر پیټی په څومره اوسپنیز هوډ، زړورتیا، کلک ایمان او پوره اخلاص سره په غاړه واخیسته.

له دې وروسته رسول الله خپلې خبرې وکړې او بیعت وشو.

### د بیعت بندونه:

امام احمد رحمه الله په خپل مسند کې د جابر رضی الله عنه څخه په لاندې تفصیل نقل کړي دي، چې جابر رضی الله عنه وایي، موږ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل، په څه درسره بیعت وکړو؟

رسول الله صلی الله علیه وسلام و فرمایل :

١. په خوښه او نا خوښه کې اورېدنه او مننه.
٢. په تنګ لاسۍ او پراخۍ کې خیرات
٣. په نیکو امر او له بدیو مخنیوی
۴. د خدای په لار کې به اودرېږئ، د خدای په لار کې به مو هېڅ ملامتونکی له لارې نشي ګرځولی.
۵. چې زه درغلم ، ملاتړ به مې کوئ او له هغه به مې ژغورئ، چې له کومو چې تاسې خپل ځانونه، ښځې او بچیان ساتئ، نو تاسې به جنت ته لاړ شئ

براء بن معرور د رسول الله صلی الله علیه وسلم لاس ونیوه او ویې ویل، هو په همدې شرط درسره بیعت کوو، قسم په خدای موږ به دې له هغو شیانو ژغورو، چې له کومو خپلې ښځې ساتوو، ای د خدای رسول صلی الله علیه وسلم له موږ سره بیعت وکړه!

سوګند په الله جل جلاله موږ خورا جنګیالي او مېړني خلک یوو او دا کار راته له پلرونو او نیکونو په میراث پاتې دی.

۶



### کابل پولي تخنیک پوهنتون کې د کادري بستونو آزموینه واخیستل شوه



د کابل پولي تخنیک، د غزني تخنیکي، د بامیان او پنجشیر پوهنتونونو د علمي کادر بستونو د شمولیت تخصصي آزموینه واخېستل شوه.

د لوړو زده کړو وزارت د تقرر او ترفیعاتو ریاست سرپرست رئیس استاد حمیدالله عابد ، د اکاډمیکو چارو د نظارت او ارزیابۍ رئیس پوهندوی دوکتور محمد ولي حنیف او د لوړو زده کړو وزارت مشاورینو په داسې حال کې چې ازموینې ته د پرچو برابرولو او د ازموینې نظارت پرځای کوو، د ازموینې ګډون والو ته مؤفقیت هیله وښوده او د امتحان د پروسې د شفافیت په اړه یې ډاډ ورکړ.

په دې ازموینه کې د پورتنیو پوهنتونونو د انجنیرۍ د (۲۰) بېلابېلو څانګو لپاره د علمي کادر په بستونو کې د شاملېدو په موخه (۱۲۰) کاندیدانو څخه ازموینه واخېستل شوه.

دغو کاندیدانو د نړیوالو ژبو د ازموینې وروسته تخصصي ازموینه ورکړه .

د لوړو زده کړو وزارت د تقرر او ترفیعاتو سرپرست رئیس حمیدالله عابد د پوهنتونونو د استادانو څخه مننه وکړه او زیاته یې کړه چې

### د دعوت او ارشاد رئیس د رابعه بلخي خصوصي..

بیان کړه او یادونه یې وکړه، چې یاده طرحه یې د اسلامي شریعت او د افغانستان کلتور او فرهنګ ته په کتو ترتیب کړې ده.

د رابعه بلخي خصوصي پوهنتون رئیس محمد ظاهر زارع په خپلو خبرو کې د ا.ا.ا له لوري د خصوصي پوهنتونونو اړوند ټولو فرمانونو د تطبیق په اړه ډاډ څرګند کړ او په وینا یې، چې دوی ته د دعوت او ارشاد له لوري ورکړل شوې طرحه یې عملي کړې او عملي کولو ته یې ژمن دي.

### جلسه شورای رهبری وزارت تحصیلات عالی ...

هم چنان در جلسه یاد شده مطابق آجندا روی موضوعات و مشکلات پوهنتون ها، اساتید، محصلان و تمامی ادارات مرتبط به این وزارت بحث و تبادل نظر صورت گرفته در زمینه موارد یاد شده تصامیم لازم اتخاذ گردید.



### له ۱۰۴ تنو کاندیدانو څخه په ننګرهار پوهنتون...

یاده د انګلیسي او عربي ژبې ازموینه د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي له خوا د اقتصاد پوهنځي د ملي اقتصاد، ساینس پوهنځي د بیولوژي او کېمیا، طب پوهنځي د بیزیک ساینس، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د عامه حقوقو، ښووني او روزني پوهنځي پښتو او ژورنالېزم پوهنځي د عامه اړیکو څانګو د اعلان شویو کادري بستونو لپاره واخیستل شوه، چې ۱۰۴ تنو کاندیدانو په کې ګډون درلود.

د یادونې ده چې تر دې وړاندې هم د هېواد د یو شمېر پوهنتونونو د کادري بستونو ازموینې اخېستل شوې دي.

### در مورد آغاز پروسه ارزیابی اسناد فارغان مدارس...

انجام داد از آنان خواست تا در پروسه ارزیابی شان از صداقت کار گرفته و جلو هر نوع جعل کاری در این راستا را بگیرند.

موصوف هم چنان گفت:« در پروسه ارزیابی اسناد دینی باید از هر نوع قوم پرستی و سمت پرستی خود داری نموده و به تمام اسناد به موقع رسیدگی صورت گیرد«.

در این نشست شرکت کنندگان نظریات و سوالات شان را ارائه نمودند که از سوی رئیس دعوت و ارشاد وزارت تحصیلات عالی پاسخ داده شد.



### لوړو زده کړو سرپرست وزیر، پوهنتونونو...

بل لور ته د دولتي پوهنتونونو یو شمېر استازو خپلې ستونزې شریکې کړې، چې د سرپرست وزیر له لوري د حل کېدو ډاډ ورکړل شو او په ځینو مسایلو کې یې ورته لازمې سپارښتنې وکړې.

### معین علمی وزارت تحصیلات عالی با مسؤل دفتر...

پیرامون چگونگی فعالیت های این مؤسسه در افغانستان و سایر کشور های جهان معلومات داده گفت که هدف از راه اندازی برنامه های آگاهی دهی در نهاد های تحصیلی کشور، بلند بردن سطح آگاهی اساتید پوهنځی های حقوق و شرعیات پوهنتون های کشور در بخش قوانین حقوق بشر جهانی می باشد.

به گفته مسؤولان این مؤسسه جینوا کال این مؤسسه که یک نهاد سویسی می باشد که در ۱۷ کشور جهان برای بلند بردن آگاهی عامه در مورد قوانین بین المللی بشردوستانه کار میکند.

این مؤسسه در حال حاضر با وزارت خانه های امور داخله، دفاع و صحت عامه کار میکند و در قسمت بلند بردن سطح آگاهی از نورم ها و مفاهیم جهانی بشر دوستی برای کارمندان این وزارت خانه ها برنامه های آموزشی را راه اندازی مینماید.

### معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی...

معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی همچنان از مرکز تکنالوژی معلوماتی، کتابخانه مرکزی، پروژه های ناتمام و سایر بخش های این پوهنتون دیدن نمود و در راستای بهبود و تسریع امور به مسئولان مربوطه هدایات لازم داد.

# د زغم کیسه

غ.د. خاورین

دا د هغه چا کیسه ده چې په خپل کلي کې په صوفي اسلم اکا مشهور وو. د صوفي اسلم اکا ژبه تل د خدای په ذکر او زړه یې تل د خدای په یاد بسیا و. پرته له مؤمنو او سپېڅلو خلکو څخه، له نورو سره یې څه راکړه ورکړه نه وه. د ژوند او روزګار د پر مخ بېولو لپاره یې پر هغه څه بسنه کړې وه چې له خپلې کوچنۍ کروندې څخه یې د خپل زیار او هڅو په پایله کې ترلاسه کاوه او په دې باندې چې الله تعالی د حلالې روزۍ لایق ګرځولی او له حرامو څخه یې ژغورلی و، شکرونه کول.

*****

د دوبي توده ورځ وه؛ صوفي د لمر خاته سره سم د خپلې ځمکې په قولبې پیل وکړ او تر نیم ځانښته پورې یې د ځمکې یوه برخه واړوله؛ نور نو ستومانه شو؛ د یوې لنډې دمې لپاره یې له کار څخه لاس واخیست او د قولبې غوایان یې ودرول.

دده د کروندې په څنډه کې د توت یوه ونه وه چې دده، لس - دولس کاله پخوا په خپل لاس کېنولې وه. د ونې خواته لاړ څو هلته یوه شېبه ډډه ولګوي. په دې مهال کې د بر کلي څو لنډغر او خپل سري ځوانان چې د بېوزلو خلکو ځورول یې عادت ګرځېدلی وو، د صوفي له کروندې څخه تېرېدل. د دوی پام صوفي اسلم او دده د قولبې غوایانو ته شو؛ دده د ځورولو په نیت یې تړلي غوایان خوشي کړل څو صوفي ته سر خوږی پیدا کړي؛ خو غوایان چې تندې اخېستي وو، نېغ په نېغه د اوبو ویالې خواته روان شول او هلته د اوبو په څښلو شول. صوفي چې ولید غوایان یې تږي دي خو دی د غوایانو له حاله بې خبره پاتي دی او د ځان د اسودګۍ په لټه کې دی، ډېر یې ځان ملامت کړ او بیا یې داسې و انګېرله چې کېدای شي دا ځوانان د الله تعالی نور مخلوقات وي چې د انسانانو په جامه کې راڅرګند شوي دي او دی د غوایانو له تندې او دده د لا پروایۍ څخه خبر کړي؛ ځکه نو غوایان یې ورته خوشي کړي دي.

صوفي ته ځان ګنهګار او خطا کار ښکاره شو. ژړه غونې حالت یې درلود؛ خو له دې سره چوپه خوله ناست وو. کله چې لنډغرو له صوفي څخه څه غبرګون ونه لید، بلې سپین سترګۍ ته یې مخه کړل؛ هغه دا چې پر صوفي باندې یې د کاڼو په وارولو لاس پورې کړل. پر صوفي باندې کاڼي ورېدې؛ خو هر یو کاڼی چې وربانديې لګېده، دده به د الله تعالی شکر په ځان کاوه. د دې لپاره چې ده ځان د لویې سزا لایق باله خو داسې یې انګېرله چې الله تعالی ورسره آسانه نیولې ده او په همدې دنیا کې خپله سزا ویني نو هیله من وو چې له دې سره به یې په اخرت کې د ګناهونو پېټی سپک شي.

لنډغرانو ولیدل چې صوفي د دې کار پر وړاندې هم څه د پام وړ غبرګون ونه ښود او ونه پارېد، نو د کاڼو له وېشتلو نه یې لاس واخېسته او د کوم یو بل ډول ځورولو په فکر کې شول خو دا ځل وکولای شي صوفي وپاروي او دده غبرګون ووینې. په دې وخت کې له دوی څخه یوه وویل: ددې بېوزلي له ځورولو څخه مونږ ته څه ګټه رسي؟ زمونږ په دې کار کې څه خوند شته؟! یو بل کس هم د دوی په منځ کې پښېمانه ښکارېده، ویې ویل: مونږ دده پر وړاندې د ځناورو په شان چلند کوو خو دی له یوه عادي انسان څخه اوچت ښکاري. دده چلند د ولیانو او بزرګانو په شان دی؛ هسې نه چې په ښېرا سره یې زمونږ ښېرې په بل مخ واوړي.

نور ملګري هم له دې دواړو سره مل شول. وار په وار پرخپلو کړو پښېمانه کېدل. ټولو پرېکړه وکړه، چې هریو دې ورشي، دده لاسونه دې ښکل کړي او ورڅخه بښنه وغواړي.

ټولو همداسې وکړل، یو یو ولاړل او د صوفي پر لاسونو پرېوتل او ورڅخه یې بښنه وغوښته.

د صوفي اسلم اکا سترګې چې لا تر دې مهاله د اوښکو نه ډکې وي، موسکی شو، یوځل بیا یې د خدای شکر واېست؛ خو دا وار یې د دوی پښېمانې د خدای له خوا د ښښنې نښه وبلله او په دې یې شکر کاوه چې د الله تعالی له لوري ورته د ښښنې ښېلګه څرګنده شوه. د صوفي په آند په دې هرڅه کې د خدای لوی حکمت دی چې مونږ وربانديې نه پوهېږو.

## د لس افغانیو په وسیله اتلس حیرانوونکې فایدې تر لاسه کړئ

ترتیب : انجینر سلیمان حکیمي

د اونیزې درنو لوستونکو مسواک استعمالول که له یوه اړخه مسنون عمل دی خو له بل اړخه ګڼې طبي فایدې هم لري، تاسې کولای شئ چې لاندې فایدې د لس او یا هم د شل افغانیو په مټ ترلاسه کړئ، په دې معنا چې مسواک حد اقل لس او یا هم شل افغانۍ اخیستل کېږي.

د مسواک ۱۸ حیرانوونکې طبي ګټې په لاندې ډول دي.

۱. انسان ځوان ساتي او په اسانۍ سره نه بوډا کېږي.
۲. مسواک وهل ورۍ ښه ساتي او د خولې د ډول ډول مرضونو مخنیوی کوي .
۳. د معدې، توري او ځیګر له ناروغیو څخه مخنیوی کوي .
۴. د انسان پیدا ایښتي (ارثي) قوتونه درست او منظم ساتي .
۵. له بدن څخه ګرمي لرې کوي.
۶. مسواک وهل د انسان د خولې بدبویې له منځه وړي.
۷. د خولې میکروبونه له منځه وړي .
۸. د اولاد د زیاتوالي سبب ګرځي.
۹. مسواک د انسان غاښونه قوي کوي او ښه یې ساتي، معنی دا چې تر ډېره وخته پورې د مسواک استعمالوونکی د خپلو غاښونو څخه استفاده کولای شي.
۱۰. غاښونه سپینوي.
۱۱. په خوله کې خوشبویي پیدا کوي.



۱۲. هاضمه درسته ساتي، هغه کسان چې د معدې تکلیف لري، د مسواک استعمال ورته ډېر اړین او فایده مند دی.
۱۳. د سر رګونو ته ارام ورکوي.
۱۴. د سر درد لرې کوي
۱۵. د خولې زیات لندوالی ختموي.
۱۶. د سترګو دید یا نظر زیاتوي.
۱۷. بدن قوي کوي.
۱۸. د سینې درد ختموي.

له پورته طبي ګټو سربېره مسواک وهل نورېې دنیاوي او اخروي ګټې هم لري.



# حجاب

لیکوال : انجینر محمد اسلم اسلم

حجاب د زنانو لپاره یو شرعي عمل دی چې په مراعت کولو سره یې زنانه طبقه له هر قسم شرونو او اندېښنو څخه محفوظه کېږي، په اسلام کې د ښځو لپاره حجاب کول فرض او ضروري دی.

حجاب مختلف ډولونه لري چې غوره یې افغاني ډول یعنې بورقه ده، حجاب په افغاني او خصوصاً پښتنه ټولنه کې زیات ارزښت او رواج لري، د حجاب مراعتول هره افغانۍ پېغله خپل زینت او ویاړ ګڼي.

د حجاب په اړه قران کریم هم ځای ځای تاکید کوي چې یو څو یې په لاندې ډول دي.

الله جل جلاله په قران کریم کې فرمایي :
یا أیها النبي قل لأزواجك وبناتك ونساء المؤمنين يدنين عليهن من جلابيبهن ذلك أدنى أن يعرفن فلا يؤذين ﴿ الأحزاب: ۵۹ نمبر آیت

اې د خدای رسوله خپلو بیبیانو او لورګانو او د مؤمنانو ښځو ته ووایه چې: (لوړ او اوږده حجابونه) پر ځان واچوي دغه کار د دې لپاره ښه دی څو دوی وپېژندل شي او د آزار او اذیت څخه په امان شي، (او که چیرې تراوسه ور څخه کومه خطا او یا اشتباه شوې وي نو توبه دې وباسي)

په قران کریم کې بل ځای الله تعالی فرمایي :
وإذا سألتموهن متاعاً فاسألوهن من وراء حجاب ذلكم أطهر لقلوبكم وقلوبهن ﴿ الأحزاب: ۵۳ نمبر ایت ﴾

الله جلا جلاله اصحابو کرامو ته امر کړی؛ چې کله که تاسې د رسول کریم صلی الله علیه وسلم له بیبیانو څخه څه غواړئ نو د پردې له شا یې وغواړئ چې دا کار ستاسو او د دوئ د زړونو د پاکۍ لپاره بهتر کار دی .

یادونه: دلته چې کوم طهارت د أمهات المؤمنين په اړه ذکر شوی دی دا طهارت یوازې هغو ته راجع نه دی بلکې د ټولو مسلمانانو ښځو ته راجع دی، ځکه په دې کې مکمله او بشپړه پرده راغلې ده چې باید هیڅ څه د مؤمناتو د بدن ښکاره نشي بلکې د مکملې پردې تر شا به سوال او ځواب کېږي، دا سوال او ځواب که د دروازې تر شا وي او یا هم مخامخ خو ټول بدن به یې داسې پټ وي چې د بدن کومه حصه یې ښکاره نشي.

د قران کریم په یوې بلې برخې کې الله جل جلاله فرمایي:
ولا يبدين زينتهن الا لبعولتهن أو آبائهن او آباء بعولتهن او ابنائهن أو أبناء بعولتهن أو اخوانهن أو بني اخوانهن أو بني أخواتهن أو نسائهن

خپل زینت او ښایست مه ښکاره کوئ مګر خپلو مېړونو ته ، پلرونو ته، د مېړه پلارته، یا زامنو ته، او یا زامنو د مېړونو ته، یا ورونو ته او یا د ورونو زامنوته ، یا خورګانوته او د خورګانو زامنو ته، یا ښځو ته (چې د دې سیالي او هم دیني وي او یا هم مذهبه وي).

همدارنګه په بل ځای کې فرمایي:
وليضربن بخمرهن على جيوبهن ﴿ النور: ۳۱ نمبر آیت﴾

ژباړه : خپل حجابونه دې په خپلو سرونو او سینو باندې واچوي څو زینت یې ښکاره نشي.

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم هم په ګڼو ارشاداتو کې د حجاب په اړه تاکید دي:

بخاري شریف په دې اړه له بي بي عائشې رضی الله عنها څخه روایت کړی دی چې وایي:
لما أنزلت هذه الآية أخذن أزورهن، فشققنها من قبل الحواشي فاختمرن بها.

ژباړه : کله چې دا آیت نازل شو نو مونږ خپل حجابونه (یا مخ پټوونکې پردې) راواخستلې او د خپل بدن اندامونه او مخونه مو پرې پټ کړل .

حافظ ابن حجر په دې اړه فرمایي چې د فاختمرن معنې داده: یعنې خپل مخونه مو پرې پټ کړل.

عن صفية بنت شيبة أن عائشة رضي الله عنها كانت تقول : لما نزلت هذه الآية ( وليضربن بخمرهن على جيوبهن ) أخذن أُزُرَهن (نوع من الثياب) فشققنها من قبل الحواشي فاختمرن بها . رواه البخاري ( ۴۴۸۱ ) ، او أبو داود ( ۴۱۰۲ )

يرحم الله نساء المهاجرات الأول لما أنزل الله { وليضربن بخمرهن على جيوبهن } شققن أكثف مروطهن (نوع من الثياب) فاختمرن بها ". أي غطين وجوههن.

الله تعالی دې د مهاجرینو پر ښځو باندې ورحمیږي کله چې { وليضربن بخمرهن على جيوبهن } آیت نازل شو نو دوی پر خپل مخونو باندې یو رقم ټوټه واچوله او خپل مخونه یې پر پټ کړل.

شیخ محمد امین الشنقیطي رحمه الله فرمایي چې دا حدیث په صریح ډول د ښځې د مخ پټولو په باره کښې دی او وایي چې ښځه باید حتماً خپل مخ پټ کړي، او د وليضربن بخمرهن على جيوبهن آیت شریف تقاضا همدا ده چې ښځې باید خپل مخونه پټ کړي کوم چې د ښایست مرکز شمېرل کیږي.

او په بل حدیث د عائشې رضی الله عنها کې راځي چې هغه فرمایي: کله چې د حجاب آیت نازل شو او مونږ ته امر وشو چې حجاب وکړو نو مونږ حجاب مراعات کړ داسې چې زمونږ ټول بدن له سره تر پښو پورې پټ وو، او د انصارو ښځې داسې معلومېدلې لکه په سرونو یې چې کارغان ناست وي (یعنې لوی لوی حجابونه او پردې به یې کولې )

بل حدیث د عایشې رضی الله عنها دی چې فرمایي:
عن عائشة أن أزواج النبي صلى الله عليه وسلم كنّ يخرجن بالليل إذا تبرزن إلى المناصع (أماكن معروفة من ناحية البقيع ) فكان عمر...

## دو حکایت از گلستان سعدی شیرازی

# در باب تآثیر تربیت

یکی از فضلا تعلیم ملک زاده ای همی داد، و ضرب بی محُابا زدی، و زَجر بی قیاس کردی. باری پسر از بی طاقتی شکایت پیش پدر بُرد و جامه از تنِ دردمند برداشت. پدر را دل به هم برآمد. استاد را گفت پسرانِ احادِ رعیت را چندین جفا و توبیخ روا نمی داری که فرزند مرا! سبب چیست؟ گفت: سبب آنکه: سخن اندیشیده باید گفت، و حرکت پسندیده کردن همهٔ خلق را علی العموم و پادشاهان را علی الخ صوص، به موجب آنکه برد ست و زبان ایِ شان هرچه رفته شود هر آینه به افواه بگویند، و قول و فعل عوام الناس را چندان اعتباری نباشد.

اگر صد ناپسند آید زدرویش
رفیقانش یکی از صد ندانند
وگر یک بَذله گوید پادشاهی
زاقلیمی به اقلیمی رسانند

پس واجب آمد معلم پادشه زاده را در تهذیب اخلاق خداوند زادگان.

هرکه در خُردیش ادب نکنند
در بزرگی فَلاح ازو برخاست
چوب تر را چنانکه خواهی پیچ
نشود خشک، جز به آتش راست

مِلک را حُسن تدبیر فقیه و تقریر جواب او موفق رای آمد، خِلعت و نعمت بخشید و پایهٔ منصب بلند گردانید.

هر آن طفل کو جور آموزگار
نبیند، جفا بیند از روزگار

***

پارسازاده ای را نعمت بی کران تَرکهٔ عَمان به دست افتاد. فسق و فجور آغاز کرد، و مُبذری پیشه گرفت. فی الجمله، نماند از سایر معاصی منکَری که نکرد، و مُسکِری که نخورد. باری به نصیحتش گفتم: ای فرزند: دَخل، آب روان است، و عیش آسیای گردان. یعنی خرج فراوان مسلم کسی را باشد که دخل معیَن دارد.

چو دخلت نیست خرج آهسته تر کن
که میگویند مَلاحان سرودی
اگر باران به کوهستان نبارد
به سالی دجله گردد خشک رودی

عقل و ادب پیش گیر و لَهو و لَهیب بگذار که چون نعمت سپری شود سختی بَری و پشیمانی خوری. پسر از لذت نای و نوش این سخن در گوش نیاورد، و برقول من اعتراض کرد و گفت: راحتِ عاجل به تشویش محنتِ اَجل مُنَغص کردن خلاف رأی خردمند است.

خداوندانِ کام و نیکبختی
چرا سختی برند از بیم سختی
برو شادی کن ای یار دل افروز
غم فردا نشاید خوردن امروز

فَکَیفَ مرا که در صدر مروُت نشسته باشم، و عقد فتوَت بسته، و ذکر اِنعام در اَفواه عوام افتاده؟

هر که عَلَم شد به سخا و کرم
بند نشاید که نهد بر دِرَم
نام نکویی چو برون شد به کوی
در تنوانی که ببندی بروی

دیدم که نصیحت نمی پذیرد، و دَمِ گرم من در آهن سر او اثر نمی کند. ترک مناصحت گرفتم و روی از مصاحبت بگردانیدم، و قول حُکما کار بستم که گفته اند: بَلغ ما عَلَیکَ فَاِن لَم یَقبَلوُا ما عَلَیکَ.

گرچه دانی که نشنوند بگوی
هرچه دانی زنیکخواهی و پند
زود باشد که خیره سر بینی
به دو پای اوفتاده اندربند
دست بر دست می زند که دریغ
نشنیدم حدیث دانشمند

تا پس از مدتی آنچه اندیشه من بود از نَکبتِ حالش به صورت بدیدم که پاره پاره به هم بر می دوخت، و لقمه لقمه همی اندوخت. دلم از ضعف حالش بهم برآمد، مروَت ندیدم در چنان حالی ریشِ درویش را به ملامت خراشیدن و نم پاشیدن، پس با دل خود گفتم:

حریفِ سفله در پایانِ مستی
نیندیشد ز روز تنگدستی
درخت اندر بهاران برفشاند
زمستان لاجرم بی برگ مانتد




خواهرم گو که چرا رنگ به رنگ آمده‌ای؟
مگر از عفت و آزرم به تنگ آمده‌ای؟
چه بدی دیدی از آیات خداوند رحیم
که تو با مذهب اسلام به جنگ آمده‌ای؟
این گناه علنی از تو مسلمان زشت است
تو خوش از اینکه به انظار، قشنگ آمده‌ای؟
عصمت و دین جوانان همه بر باد دهی
ای که بی چادر و با مانتو تنگ آمده‌ای
به کجا می‌روی از خیمه زهرا، برگرد
که به راه گنه و فتنه و ننگ آمده‌ای
دل به دریای هوس‌ها زده‌ای، غافل از این
طعمه‌ای هستی و در کام نهنگ آمده‌ای
تو چنان صیدی و صیاد هوس در پی توست
از چه در معرکه تیر و خدنگ آمده‌ای؟
صید صیاد شود، کبک خرامنده مست
از چه در دام خطر مست و ملنگ آمده‌ای؟
چون که بودست حجابت، سپر تیر نگاه
پس چرا بی سپر ای غافل منگ آمده‌ای؟
بود تقوای تو زین مَهلَکه‌ها، پای گریز
از خطر چون بگریزی تو که لنگ آمده‌ای؟
تو گلی هستی و گلچین هوس کرده کمین
شیشه‌ای هستی و در معرض سنگ آمده‌ای
برد گستاخی شهوت همه شیرینی عشق
نوش بودی تو چرا زهر و شرنگ آمده‌ای؟
رهبرت عشق و وفا بود و کنون نفس و هواست
در خطر گاه، چه بی فکر و درنگ آمده‌ای
جای غفلت نبود، خواهر من قدر بدان
که در این دار فنا، گوش به زنگ آمده‌ای

**(محمد رضا آقاسی)**

## غوره ویناوي!

را ټولوونکی: ناصر خان شیرزی

**د حضرت لقمان حکیم رحمه الله علیه نصیحتونه!**

۱. د ګټې او زیان له پاره خپل عزت له منځه مه وړه.
۲. ملګري ته د راز خبره مه کوه!، کېدای شي چې سبا ستا دښمن شي.
۳. د خلکو هومره لحاظ کوه، چې ځان خراب نه کړې
۴. له جنګ او فتنې ښخه په ډډه ګرځه.
۵. په مجلس کې له خلکو ښخه مخکې مه ویده کېږئ.
۶. مړي بد مه یادوئ، ځکه چې ګټه نه لري.
۷. د مېلمه په وړاندې چاته غوسه مه کوه.
۸. خلک د خلکو په وړاندې مه رسوا کوه.
۹. بې ځایه وینا کوونکی او لوبې کوونکی مه اوسه.
۱۰. که د ژبې له زیان ښخه ځان ژغورل غواړئ، نو چپ اوسئ.



# د اسلامي حاکمانو، اخلاق او صفات

لیکوال: الحاج مولوي عبدالباقي حقاني

## د عدل ارزښت او د بې عدالتۍ نقصانات

په ټولنه کې عدل ډېر ارزښت او ګټې لري او په مقابل کې یې بې عدالتي او ظلم ډېرې نیمګړتیاوې او تاوانونه لري.

د عدل نه پرته د رعیت اصلاح نه شي راتلی د یو ملک پایښت په عدل او زوال یې په بې عدلۍ پورې تړلی دی.

یو شاعر ویلي دي:


۱. کله چې ته د یو قوم اصلاح غواړې؛ نو د دوی ترمنځ عدل قایم کړه، چې په دې سره به ته له هغه چا نه په امن کې شې، چې ډار او ویره ترې لرې.
۲. کله چې ته د یو قوم د غوښتنو له امله د هغوي د جلاوالي ډار لرې؛ نو دوی ته مال او دولت ورکړه.
۳. که ته د یو ملک پاچا شې؛ نو په تا لازم ده، چې عدل وکړې او په ډېر ټینګار سره د ظلم ښخه ډډه وکړې.
۴. که په یو ملک کې د کفر سره عدل وي، هغه ملک پایښت مومي او هغه ملک چې هلته عدل نه وي هغه ملک او حکومت هیڅکله دوام نه کوي؛ اګر که دغه ملک اسلامي هم وي.

## د حضرت عمر رضی الله عنه اثر

د یمامه په جګړه کې د حضرت عمر رضی الله عنه مشر ورور حضرت زید بن الخطاب رضی الله عنه د حضرت ابو مریم رضی الله عنه له خوا شهید شو، په هغه وخت کې، چې حضرت ابو مریم رضی الله عنه لا اسلام نه ؤ راوړی، حضرت عمر رضی الله عنه د ورور په غم ډېر غمجمن و؛ خو کله چې د ده د خلافت دور راغی بیا یې هم د اجتماعي مصالحو په خاطر حضرت ابو مریم رضی الله عنه د اسلام راوړلو نه وروسته د بصرې قاضي وټاکه.

## د عدل کولو طریقې

پاچاهانو او حاکمانو لپاره په عدل کې لازمه ده چې لس (۱۰) خصلتونه په ځان کې پیدا




کړي، چې دې خصلتونو سره به په عدل کولو باندې بریالي شي.

اول خصلت: د دین رښا اقامه او د دین د شعائرو ساتل او دې ته د خلکو هڅول دي ترڅو دوی په دین باندې عمل وکړي او د دین په حقوقو کې د سستۍ او کمۍ نه ځان وساتي.

دوهم خصلت: دښمنانو نه د اسلامي مملکت د حریم او د رعیت نه دفاع او ساتنه ده.

دریم خصلت: د مصالحو په اعتبار سره د وطن آبادول او د عامو لارو برابرول او ساتل دي.

څلورم خصلت: په دې غور او فکر کول دي، چې د ده حاکمان او نژدې ملګري او مخور په رعیت تیری او ظلم ونه وکړي، دا ځکه که د ده په حاکمیت کې د ده ملګرو په چا ظلم وکړ؛ نو د دې ظلم ګوته پاچا او مشر ته نیول کېږي او خلک وایي چې پاچا په خلکو ظلم وکړ.

پنځم خصلت: د نظامي ځواک او نورو هغو خلکو په حالاتو کې غور او فکر دی، چې هغوی ته د بیت المال ښخه مرسته ترلاسه کوي، د بیت المال مسؤلین باید د دوی په مرستو او حقوقو کې کمی ونکړي او یا یې د خپل ټاکلي وخت نه وروسته نکړي.

شپږم خصلت: په رعیت کې د حق تلفۍ او زیاتي د معلومولو لپاره ناسته ده، چې د هغوي په منځ کې جنجال د شریعت سره سم په عدل او انصاف سره فیصله کړي.

اوم خصلت: کوم خلک چې د بیت المال مستحقین وي، د بیت المال اندازه کول د کمي او زیاتي نه پرته په مستحقینو باندې ویشل.

اتم خصلت: د شریعت سره سم د جرم په کچه په مجرمینو باندې حدود قایمول دي.

نهم خصلت: په چارو کې داسې ځای ناستي وزیران، والیان او قاضیان ټاکل، چې د کفایت، امانت، تجربې او په اړونده برخه کې د پوهې خاوندان وي.

لسم خصلت: د قاضیانو او د امربالمعروف او نهی عن المنکر مسؤلینو موقوفه او هغه حکمونه پلي کول دي، چې دوي یې د پلې کولو نه له دې امله عاجز وي، چې هغه شخص د قدرت او طاقت خاوند وي په کوم شخص چې د حد د تطبیق حکم شوی وي؛ نو پاچا او حاکم به هغه حکم تطبیقوي او د محکوم علیه د طاقت او قدرت له امله به نه پرېښودل کېږي.

د حاکم لپاره د عدل طریقه دا ده، چې خپل ځان ته د دین عالمان را نژدې کړي، د دوي نصیحتونه واوري او عملي یې کړي، د ده پاچاهي به د علماؤو په نصیحتونو او د بزرګانو په دعاګانو سره پایښت مومي .

## احسان.... په بله ګڼه کې!

احسان.... په بله ګڼه کې!